عبدالغفار پوپل ۲۰۱۲/۰۲/۱۱

# د پوهنې پر مختګ د افغانستان پر مختګ دی

افغانستان د پرمختګ او د جګړې په حال کې یو مظلوم هیواد دی ددې خاورې باتور او سرلوړي ولس شا و خوا لس کال کیږي چې د خپل راتلونکي ژوندانه لپاره په ډیرو سختو شیبو کې شپې او ورځې سبا کوي، خو د پردیو غلامان او د هغوی اجیران، پدې لټه کې دي چې څنګه د افغانستان واټونه او کوڅې د افغانانو پر وینو سرې کړي، د سیاسي بدخوالو تر څنګ یو شمیر فاسد او اجیرو کړیو داسې منډې ترړې پیل کړي او غواړي چې د پښتون او تاجک په نامه د افغان ولس ترمنځ (درز) واچوي.

د غه مخصو صه کړی له مختلفو لارو لاس په کار دی او بدمرغه ګامونه یې دپو هنې او زدکړې خواته پورته کړي دي او غواړي د نفاق، ورور وژنې، اوکینه پالۍ تخم د افغان ولس په نویو او راتلونکي نسلونو کې وکري، دوي هڅه کوي د افغان ولس له سپیڅلو احساساتو ناوړه کټه پورته کړي او افغانان یو دبل په ویر او ماتم یو دبل په وینو تږی او د نابودۍ تر پولې ورسوي.

د افغان ولس بهرني دښمنانو او په کور د ننه دهغوي مخ توري (غلامان) اوس غوړاي هغه مخور او د خلکو خدمت کاران چې په خورا صداقت او هیواد پالنې سره خپل ولس ته کارکوي او غواړي چې خپل هیواد او هیواد وال له بیچارګۍ او دربه درۍ څخه وژغوري؛ په مختلفو نومونو بدنامه کړي، او دا هڅې په چټکۍ سره پیل شوي دي چې په دې برخه کې یوشمیر رسنۍ هم خپل رول په منفي ډول د لوبولو په حال کې ساتلی.

په دې لیکنه کې غواړم یوازې هغه موضوع را واخلم کوم چې د افغانستان د راتلونکي لپاره د یوه ودان او آزاد هیواد په جوړولو کې اساسي ونډه لو بوي. د افغانستان د پوهنې وزارت سره له دې چې له ناخوالو او متعددو ستونزو سره لاس او ګریوان دی خو ترخوایې ګټور او بسټیزې هڅې هم تر سره کړي دي. د افغانستان اساسي ستونزه همدا معارف دي چې په تیرو دیرشو کلونوکې پر واک د ناستو کسانو له پامه غورځول شوی وو، او دا هڅې یې کولې چې خپلې څوکۍ او حرامې ګټې خوندي وساتي چې په پایله کې افغانستان په سیمه کې دګاونډیو هیوادونو د استخباراتي لوبو پر ډګر بدل شو.

اوس چې افغانستان دیو پیا وړي نظام او دولت خاوند دی، او تمه کیږي چې پدې برخه کې په بنسټیزه توګه ژور او د افغان ولس په ګټه بدلون راشي.
همدې موخې ته د رسیدو لپاره د پوهنې وزارت د یوه مهم او بنسټیز وزارت په تو ګه خپلې هڅې پیل کړې، سره له دې چې د دغه وزارت په مشرتابه کې د ښاغلي ډاکتر فاروق(وردګ) په ګډون شپږ تنه وزیران دتیرو لسو کلونو په اوږدوکې بدل رابدل شول او هر یو هم ترخپلې وسې او امکاناتو کار وکړ.
خو دغه وزارت ته د ښاغلي فاروق ( وردګ) په را تلو سره د پام وړ مثبت بدلو منځته راغی، او داسې ګامونه پورته شول چې پو هنې وزارت یې په خپل زاړه تاریخ کې نوه تجربه کړې ، یو له دې له سته راوړنو څخه داوه چې ښوونه او روزنه دافغانستان کلي او بانډو ته ورسول شوه په داسې یو شرایطو کې چې یوشمېر سیمې دوسله والو مخالفینو تر ولکې لاندې وې او اوس هم دي، تردې وړاندې په یادو لرې پرتو سیموکې د ښوونې پر ځای دجګړې او ترهګریزو کړنو زدکړې ورکول کیدې او افغان ماشومانوته هم ترهګریزې زدکړې ورکول کېدلې.
د پوهنې وزارت دښاغلي ډاکټر فاروق (وردګ) په مشري په تیرو دریو کلونوکې په سل ګونه نورې لاسته راوړنې هم درلودې چې دافغان ولس لپاره دویاړ په توګه پا تې شوي او لاهم دا نسترې کیدونکي هڅې په چټکۍ سره پر مخ درومي . د معارف پر مختګ او لاسته راوړنه د افغان کړېدلي ولس لپاره لوی ویاړ دی هر افغان مسولیت لری چې خپل تاریخ او ملت ته زرین او غوره انځور وړاندې کړي، نه داچې له ژبني او قومي تعصبونو څخه ډکې خاطرې او کارنامې تاریخ ته وسپاري .
خو د افغان ولس بهرني او (کورني) دښمنانو له دې ټولو سترګې پټې کړې او خپلو شومو کړنو ته دوام ورکوي. پدې برخه کې د افغانستان رسنۍ ډېر جدي او برخلیک ټاکونکی مسئولیت لري ترڅو ریښتیني او بې پرې وا قعیتونه تر خلکو ورسوي، افغانستان دافغانانو ګډ کور دې اوهیڅ راز معاملې ته چې ملي او افغاني ګټې له منځه وړي ځای نشته او لازمه ده چې (افغاني) او(بهرني) دښمنانوته فرصت ورنه کړل شي چې دوی د افغان ولس پر حیثیت او وقار لوبې وکړي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دافغانستان دپوهنې پر وزیر مشخصو کړیو لفظي او جاهلانه بریدونه په داسې حال کوي چې دوی پیژندل شوي او له نیکه مرغه شرمیدلي اوخجالیت پاتې دي، له بلې خوا دوی خپلې موخې ته هم نه دي رسیدلي.
هغه څه چې ډېر مهم دي هغه درسنیو ونډه ده چې له بده مرغه یو شمیر رسنۍ په ځانګړي توګه د یو تعداد محدوې(انځوریزې رسنۍ) په دې ورستیو کې د ولس له دښمنانو سره په مشترک ډول داسې مطالب او لیکنې خپروي چې په لومړي سر کې درسنیو له معیار ونو اوله بلې خوا له موجوده قوانینو سره جوړښت او سمون نه لرې داډول کړنې ملي ګټو ته ستر ګواښ دی، چې له بده مرغه رسنۍ هم په دې برخه کې خاصه پاملرنه نه کوي.

دپوهنې د پرمختګ له بهریر سره دښمنې دا مانا لري چې د نوي نسل پر ژوند پیرزوینه نشته او هغه ډلې ټپلې چې په دې برخه کې اخته دي هغوي ملي خاینین او ملي غداران دي او هیڅ وخت دوی خپلې موخې ته نه شي رسیدی.
ښاغلی (وردګ) له دې ټولو ناخوالو سره دمبارزې تر خوا په نړیواله کچه پر مختګونه خپل ولس او معارف ته ترلاسه کړي دي، یو له هغو څخه په ۱۳۹۰ کال کې دښوونې او روزنې دنړیوال ګډون له ټولنې څخه د غړیتوب ترلاسه کول یادولی شو، او موخه یې داده چې دافغانستان معارف د نړۍ په کچه د معارف لویو نړیوالو اهدافوته ورسوي چې له نیکه مرغه همداسې وشول. یعنې کومې لاسته راوړنې چې تر دې دمه د معارف وزارت د ښاغلي فاروق (وردګ) په مشرۍ تر لاسه کړي عادي او له پامه لویدلې هڅې نه دي.
خو رسنۍ له بده مرغه دغو ټکوته لیوال تیا نه لري او دهغو مطالبو په لټه کې دي کوم چې حساسیت او نفاق ور کې پروت وي، ځینې رسنۍ پداسې حال کې د پوهنې د وزارت پر کاري تګلارو او فعالیتونو نیوکه کوي چې د افغانستان معارف په نړیوالو معیارونو سمبال شوی او دالله (ج) په فضل سره دا لړۍ په چټکه توګه پرمخ درومي.
یو بله خبره چې هیڅ ډول منطقي او عقلي بنه نلري او ځینې رسنۍ هم ور پسې شله دي هغه په قومي او ژبنیو فعالیتونو کې د ښاغلي(وردګ) تورنول دي چې دا کار له انساني اخلاقو سر په مغایرت کې او له بلې خوا یو ناوړه عمل بلل کیږي.
دا حقیقت ده چې ډاکتر صاحب فاروق (د پوهنې وزیر) د وردګو ولایت اوسیدونکی دی او ځینې همکاران یې وردګ دي، په دې کې نیم ګړتیا او ستونزه څه ده؟
آیا هغه کسان چې په کاري شرایطو او قوانینو برابر کسان دي او وردګ هم دي هغوی ته د پوهنې په وزار ت کې دنده ورنه کړل شي؟
یا چې دوی افغانان نه دي او په دې خاوره کې دکار کولو او د موقف لرلو حق نه لري؟ د یادو پوښتنو ځواب په نیغه توګه لو مړی په رسنیو بیا په ډلو ټپلو پورې اړه لري چې غواړي دپوهنې پر وزارت بې بنسټه تورنه ولګوي.
دپوهنې وزارت په تیرو دریو کلونو کې د هیواد په کچه دښوونې او روزنې عمومي وضعیت ته په مثبت ډول بدلون ورکړی، په مرکز او ولایاتو کې دښوونکو امتیازات او کاري کچه تر مسلکي ارزونې وروسته په نویو کاري او غوره مسلکي میتودونو لوړ کړی شوي دي، په همدې ډول په مرکز او ولایاتو کې دښوونځیو لپاره نوي ودانۍ په عصري او مدرن ډول جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي په ورته وخت کې دتیرو جګړو له امله ویجاړ شوي ودانۍ سره له دې چې رغول شوي بلکې په عصري تجهیزاتو هم سمبال او ګټې اخیستنې ته وړاندې شوي دي، دغه منډې تړړې دهېواد له شمالي ولایاتو څخه پیل بیا ټول هیواد ته غزول شوي دي او لا هم دوام لري.
په همدې ډول د خصوصي سکتور په برخه کې هم دپام وړ کارونه شوي شخصي ښوونځي د دولتي ښوونځیو تر څنګ په نوي او عصري ډول د پوهنې وزارت د درسي نصاب پر پلي کولو سره زرګونو افغان زدکونکو ته ښوونه او روزنه ورکوي، داټول هغه ژور او دپام وړ مثبتې هڅې دي چې دپو هنې وزارت له کاري لاسته راوړنو او هڅو څخه شمېرل کیږي.

ولې په دې ټولو پر مختګو نواو لاسته راوړنو چې افغان ولس ته یې ګټه رسولې سترګې تړل کیږي او داښکاره خبره ده چې پر افغان ولس دښه ژوند لورینه نشته،او بل لور ته دا بې انصافي او لویه بې عدالتي ده چې معارف ته بې ځایه او بې مدرکه ګوتې پورته کیږي.
چې له بده مرغه رسنۍ هم دې ټکي ته په نه پاملرنې سره له خپلې دندې او مسولیت څخه تښتي او دحقیقت پر ځای دغه زوریدلي ولس ته ناخوالي ، قومي اوژبنې مسایل خپروي.
د هېواد پر ښوونځیو نوم ایښودنه او یاهم نوم بدلول کومه ستونزه ده چې یو شمیر رسنۍ دخپلو بهرنیو بادارانو په غوښتنه پر خپرولو اوغټولو یې اخته دي او له دې لارې قومي اوژبنې موضوعاتوته لمن وهې.
لازمه ده چې دافغان ولس دښمنان په دې اړه منطقي او اخلاقي فکر وکړي چې دښوونځیو دنوم بدلول اویا هم نوي کول پر درسي میتود اغیزه نه کوي او دا د هغوی یوه لویه تیر وتنه او اشتباه ګڼل کیږي، بله خبره داده چې هر هغه ملي او افغاني شخصیتونه چې په وردګو ولایت کې زیږیدلی وي هغوی ته دفاروق (وردګ) دکور غړی او یاهم دخپلوي نصبت ورکول کیږي، دا ډل مخالفت او دسیسې هیڅ وخت نه شي کولای چې دافغان ولس ترمنځ بیلتون رامنځته کړي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له بلې خوا داځرګنده خبره ده چې دافغانستان د ښمنان په کور دننه او بهر په دې لټه کې دي چې پښتانه او نور قومونه په خپلو منځو نو کې سره وا چې، دپښتنو پرخلاف هڅې کومه تازه خبره نه ده بلکې دپښتنو لپاره په ټولیزه توګه مفهواو مانا نه لري، پښتانه په دې باور لري چې دافغانستان ټول قومونه یوه خوله او یولاس دي او دوي ټول افغانان دي، دپوهنې پر وزیر او د هغه پر لاسته راوړنو سترګې پټول یا هم نیوکې کاملا اصلاحي او مسلکي اړخ نلري بلکې سیاسي او دبهرنیو په غوښتنه له هیوادڅخه دباندې او په کور دننه تنظیم او بیا دهغو کړیو له لوري عملي کیږي چې دوی د اصلیت او اهلیت له اړخه کمزوري او دافغان ولس دښمنان بلل کیږي.
مونږ په خپله خاوره کې دملي وحدت او ملي هویت غوښتوکي یو، هر هغه شخص چې ملي او افغاني هوډ ولري او افغان زوربډلي او کړیدلي ولس ته خدمت وکړي هغه ته دقدر په سترګه ګو رو چې له نیکه مرغه ښاغلي فاروق وردګ یو له همدغه کسانو څخه دی چې دافغان ولس په خوښه او ژبه کارکوي.

د پوهنې په وزارت کې دښاغلي وردګ شتون دافغانستان د معارف ویاړ او پر مختګ بلل کیږي، دایوازي معارف وزارت ندې چې له مخالفتونو او ناندریو سره مبارزه کوي بلکې دافغان ولس ماشومانو سره ښکاره دښمني او له هغوی څخه دژوند اخیستل په ګوته کیږي.

یو ځل بیا په مطبوعاتي ژبه غواړم دا روښانه کړم چې قومي او ژبني موضوعات دافغاستان په ګټه نه بلکې دزیان او نابودی لامل ګرځي تیري تجربې دا ښودلي چې ترقي او پرختګ دیوې ټولنې په انسجام او اتفاق پورې تړاو لري.
پښتون او پښتانه دنور قومونو په ګډون دملي وحدت او ملي یواي لپاره ګډ هوډ لري او هیڅ ډول تفرقه او بیلتون ته اجازه نه ورکوي اوپر وړاندې یې کلکه مبارزه کوي، په پای کې یو ځل بیا دپوهنې په برخه کې دهر ډول پرمختګ او دښاغلي وردګ له هرډول هیواد پالنې څخه دنورو هېواد والو په ګډون ملاتړ کوم. او هیڅ چاته اجازه نه ور کوچې د دې خاورې پر مخورو شخصیتونو تیري وکړي.

پای

نوټ:
ددې لیکنې په اړه خپل نظریات پدې پته ghafar_nza@yahoo.com ترما ورسوئ.
تلفون : (00-93-(0)777 994 050)


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ